**California Attorney General's Office**
**Pashto**

**تماسي نوم:** ____________________

**د ټليفون نمره:** ____________________

**د پوليسو راپور/ د مقدمې نمره:** ____________________

**پاملرنې:** ____________________

## مارسي (Marsy) کارت او مرستې

د کليفورنيا اساسي قانون، 1 ماده، (b)28 جز، د جرم قربانيانو ته ټاکلي حقونه منظور کړي دي. دغه حقونه مشتمل دي پر:

1. **انصاف او درناوی -** د دې له پاره چې د هغه يا هغې د محرميت او وقار په پام کې نيولو سره په انصاف او درناوي ورسره چلند وشي، او د دې له پاره چې د جنايت د ارتکاب يا ماشومتوب په ټوله پروسه کې له تهديد، ځورونې، او بدې استفادې څخه خلاص وي.
2. **له مدعی عليه څخه خونديتوب -** د دې له پاره چې له مدعی عليه يا هغو کسانو څخه چې د مدعی عليه په استازيتوب عمل کوي په مناسب ډول خوندي وي.
3. **د ضمانت د ټاکلو او د خلاصون د شرايطو په برابرولو کې د قرباني د خونديتوب پاملرنې -** د دې له پاره چې مدعی عليه ته د ضمانت د مقدار د ټاکليو او د خلاصون د شرايطو په اېښودلو کې د قرباني او د قرباني د کورنۍ خونديتوب په پام کې ونيول شي.
4. **د محرمو معلوماتو د افشا کېدنې مخنيوی -** د دې له پاره چې مدعی عليه، د مدعی عليه وکيل، يا هر بل کس ته چې د مدعی عليه په استازيتوب عمل کوي، د داسې محرمو معلوماتو د افشا کېدنې مخه ونيول شي چې کېدای شي د دې له پاره وکارول شي چې قرباني يا د قرباني کورنۍ پرې وموندل شي يا وځورول شي يا دغه کار هغه محرمه مفاهمه افشا کوي چې د روغتيايي يا مشورتي معالجې په وخت کې شوې وي، يا هغه چې بل ډول قانوني امتياز يا محرميت لري.
5. **د مدافع له خوا د کېدونکي مصاحبې ردول -** د دې له پاره چې د مدعی عليه، د مدعی عليه د وکيل، يا هر بل کس له خوا چې د مدعی عليه په استازيتوب عمل کوي د مصاحبې، شاهدۍ، يا کشفياتو غوښتنه رد کړي، او د دې له پاره چې په هره داسې مصاحبه باندې چې قرباني ورسره موافقه کوي معقول شرايط وضع کړای شي.
6. **د قانوني تعقيب له چارواکي سره مشوره او له محاکمې څخه د مخکې غوښتنې ياداشت -** د دې له پاره چې، په غوښتنې سره، د مدعی عليه د بنديتوب، که قانوني تعقيبوونکی خبر وي، لګېدلو تورونو، دې تصميم چې آيا مدعی عليه بلې محکمې ته وسپارل شي، او، په غوښتنې سره، له محاکمې څخه مخکې د قضيې اړوند هرې غوښتنې په هکله په مناسب ډول معلومات واخيستل شي او له تعقيبوونکي ادارې سره په مناسب ډول مشوره وکړای شي.
7. **د عامه پروسو ياداشت او موجوديت -** د دې له پاره چې، په غوښتنې سره، د جرمي پروسو په شمول د ټولو عامه پروسو، چې په هغو کې مدعی عليه او قانوني تعقيبوونکی کولی شي چې حاضر وي او د ټولو په وعده يا له محکوميت څخه وروسته خوشې کولو د پروسو ياداشت واخيستل شي، او په دغو ټولو پروسو کې حاضر اوسي.
8. **د محکمو په پروسو کې حضور او نظريات څرګندول -** د دې له پاره چې واورېدل شي، په غوښتنې سره، د جرمي پروسو په شمول په هره پروسه کې، چې له نيولو څخه د وروسته خوشې کولو تصميم، عذر کول، محکومول، له محکوميت څخه د وروسته خوشې کولو تصميم، يا داسې کومه پروسه په کې شامله وي چې په هغې کې د قرباني يو حق له ستونزې سره مخامخ وي.
9. **چټکه محاکمه او د قضيې چټکه نتيجه -** يوې چټکې محاکمې او د قضيې او له قضاوت څخه د وروسته پروسو هرې اړوندې چټکې او وروستۍ نتيجې ته.
10. **د ثبوت ډيپارټمنټ ته معلومات ورکول -** د دې له پاره چې د ثبوت د ډيپارټمنټ يوه چارواکي ته چې په قرباني او د قرباني په کورنۍ باندې د تجاوز د تاثير په هکله له محکومولو څخه مخکې تحقيق کوي او د مدعی عليه له محکومولو څخه مخکې د محکوميت د هرو سپارښتنو په هکله معلومات وړاندې کړي.
11. **له محکومولو څخه د مخکې وخت راپور ترلاسه کول -** د دې له پاره چې، د غوښتنې په اساس، مدعی عليه ته د موجوديت په صورت کې له محکومولو څخه د مخکې وخت راپور ترلاسه کړي، په استثنا د هغو برخو چې د قانون په واسطه محرم ګرځول شوي وي.
12. **د ګرمتيا، محاکمه کولو، بندي کولو، خوشې کول، او تبښتېدلو په هکله معلومات -** د دې له پاره چې، په غوښتنې سره، د مدعی عليه د ګرمتيا، محاکمه کولو، د بندي کولو د ځای او وخت، يا نورو حالتونو، د مدعی عليه د خوشې کولو د ټاکلي وخت، او د مدعی عليه د خوشې کولو يا د توقيف له ځای څخه د تښتېدلو په هکله معلومات ورکړي.
13. **تلافي يا جبران**

    A. دا د کليفورنيا ايالت د خلکو ښکاره غوښتنه ده چې ټول هغه کسان چې د جرمي فعاليت په نتيجه کې زيانونه وراوړي بايد حق ولري چې له هغو کسانو څخه چې جرمونه يې ترسره کړي وي او د تاوان وراړولو سبب ګرځېدلي وي تلافي يا د زيان جبران وغواړي.

    B. تلافي يا جبران بايد له محکوم شوي متجاوز څخه په هر حالت کې چې يو د جرم قرباني ته په کې تاوان وراوړي، د تحميل شوې سزا له پام کې نيولو څخه پرته، وغوښتل شي.

    C. ټول نغدي تاديات، پيسې، او ملکيت چې له هر هغه کس څخه ترلاسه کېږي چې هغه ته د تلافۍ کولو امر شوی وي بايد لومړی داسې وګرځول شي چې هغه تلافي پرې تاديه شي چې قرباني ته يې د ورکولو فيصله شوې وي.


**California Attorney General's Office**
**Pashto**

**تماسي نوم:** ____________________

**د ټليفون نمره:** ____________________

**د پوليسو راپور/ د مقدمې نمره:** ____________________

**پاملرنې:** ____________________

## مارسي (Marsy) کارت او مرستې

د کليفورنيا اساسي قانون، 1 ماده، (b)28 جز، د جرم قربانيانو ته ټاکلي حقونه منظور کړي دي. دغه حقونه مشتمل دي پر:

1. **انصاف او درناوی -** د دې له پاره چې د هغه يا هغې د محرميت او وقار په پام کې نيولو سره په انصاف او درناوي ورسره چلند وشي، او د دې له پاره چې د جنايت د ارتکاب يا ماشومتوب په ټوله پروسه کې له تهديد، ځورونې، او بدې استفادې څخه خلاص وي.
2. **له مدعی عليه څخه خونديتوب -** د دې له پاره چې له مدعی عليه يا هغو کسانو څخه چې د مدعی عليه په استازيتوب عمل کوي په مناسب ډول خوندي وي.
3. **د ضمانت د ټاکلو او د خلاصون د شرايطو په برابرولو کې د قرباني د خونديتوب پاملرنې -** د دې له پاره چې مدعی عليه ته د ضمانت د مقدار د ټاکليو او د خلاصون د شرايطو په اېښودلو کې د قرباني او د قرباني د کورنۍ خونديتوب په پام کې ونيول شي.
4. **د محرمو معلوماتو د افشا کېدنې مخنيوی -** د دې له پاره چې مدعی عليه، د مدعی عليه وکيل، يا هر بل کس ته چې د مدعی عليه په استازيتوب عمل کوي، د داسې محرمو معلوماتو د افشا کېدنې مخه ونيول شي چې کېدای شي د دې له پاره وکارول شي چې قرباني يا د قرباني کورنۍ پرې وموندل شي يا وځورول شي يا دغه کار هغه محرمه مفاهمه افشا کوي چې د روغتيايي يا مشورتي معالجې په وخت کې شوې وي، يا هغه چې بل ډول قانوني امتياز يا محرميت لري.
5. **د مدافع له خوا د کېدونکي مصاحبې ردول -** د دې له پاره چې د مدعی عليه، د مدعی عليه د وکيل، يا هر بل کس له خوا چې د مدعی عليه په استازيتوب عمل کوي د مصاحبې، شاهدۍ، يا کشفياتو غوښتنه رد کړي، او د دې له پاره چې په هره داسې مصاحبه باندې چې قرباني ورسره موافقه کوي معقول شرايط وضع کړای شي.
6. **د قانوني تعقيب له چارواکي سره مشوره او له محاکمې څخه د مخکې غوښتنې ياداشت -** د دې له پاره چې، په غوښتنې سره، د مدعی عليه د بنديتوب، که قانوني تعقيبوونکی خبر وي، لګېدلو تورونو، دې تصميم چې آيا مدعی عليه بلې محکمې ته وسپارل شي، او، په غوښتنې سره، له محاکمې څخه مخکې د قضيې اړوند هرې غوښتنې په هکله په مناسب ډول معلومات واخيستل شي او له تعقيبوونکي ادارې سره په مناسب ډول مشوره وکړای شي.
7. **د عامه پروسو ياداشت او موجوديت -** د دې له پاره چې، په غوښتنې سره، د جرمي پروسو په شمول د ټولو عامه پروسو، چې په هغو کې مدعی عليه او قانوني تعقيبوونکی کولی شي چې حاضر وي او د ټولو په وعده يا له محکوميت څخه وروسته خوشې کولو د پروسو ياداشت واخيستل شي، او په دغو ټولو پروسو کې حاضر اوسي.
8. **د محکمو په پروسو کې حضور او نظريات څرګندول -** د دې له پاره چې واورېدل شي، په غوښتنې سره، د جرمي پروسو په شمول په هره پروسه کې، چې له نيولو څخه د وروسته خوشې کولو تصميم، عذر کول، محکومول، له محکوميت څخه د وروسته خوشې کولو تصميم، يا داسې کومه پروسه په کې شامله وي چې په هغې کې د قرباني يو حق له ستونزې سره مخامخ وي.
9. **چټکه محاکمه او د قضيې چټکه نتيجه -** يوې چټکې محاکمې او د قضيې او له قضاوت څخه د وروسته پروسو هرې اړوندې چټکې او وروستۍ نتيجې ته.
10. **د ثبوت ډيپارټمنټ ته معلومات ورکول -** د دې له پاره چې د ثبوت د ډيپارټمنټ يوه چارواکي ته چې په قرباني او د قرباني په کورنۍ باندې د تجاوز د تاثير په هکله له محکومولو څخه مخکې تحقيق کوي او د مدعی عليه له محکومولو څخه مخکې د محکوميت د هرو سپارښتنو په هکله معلومات وړاندې کړي.
11. **له محکومولو څخه د مخکې وخت راپور ترلاسه کول -** د دې له پاره چې، د غوښتنې په اساس، مدعی عليه ته د موجوديت په صورت کې له محکومولو څخه د مخکې وخت راپور ترلاسه کړي، په استثنا د هغو برخو چې د قانون په واسطه محرم ګرځول شوي وي.
12. **د ګرمتيا، محاکمه کولو، بندي کولو، خوشې کول، او تبښتېدلو په هکله معلومات -** د دې له پاره چې، په غوښتنې سره، د مدعی عليه د ګرمتيا، محاکمه کولو، د بندي کولو د ځای او وخت، يا نورو حالتونو، د مدعی عليه د خوشې کولو د ټاکلي وخت، او د مدعی عليه د خوشې کولو يا د توقيف له ځای څخه د تښتېدلو په هکله معلومات ورکړي.
13. **تلافي يا جبران**

    A. دا د کليفورنيا ايالت د خلکو ښکاره غوښتنه ده چې ټول هغه کسان چې د جرمي فعاليت په نتيجه کې زيانونه وراوړي بايد حق ولري چې له هغو کسانو څخه چې جرمونه يې ترسره کړي وي او د تاوان وراړولو سبب ګرځېدلي وي تلافي يا د زيان جبران وغواړي.

    B. تلافي يا جبران بايد له محکوم شوي متجاوز څخه په هر حالت کې چې يو د جرم قرباني ته په کې تاوان وراوړي، د تحميل شوې سزا له پام کې نيولو څخه پرته، وغوښتل شي.

    C. ټول نغدي تاديات، پيسې، او ملکيت چې له هر هغه کس څخه ترلاسه کېږي چې هغه ته د تلافۍ کولو امر شوی وي بايد لومړی داسې وګرځول شي چې هغه تلافي پرې تاديه شي چې قرباني ته يې د ورکولو فيصله شوې وي.

**14. د ملکيت چټکه بېرته ګرځونه -** د ملکيت چټکي بېرته ګرځونې ته کله چې نور د شاهدۍ له پاره ورته اړتيا نه وي.

**15. په وعدې سره د خوشې کولو د پروسو او په وعدې سره د خوشې کولو ياداشت -** د دې له پاره چې په وعدې سره د خوشې کولو د ټولو پروسيجرونو په هکله خبر شي، د دې له پاره چې په وعدې سره د خوشې کولو په پروسه کې برخه واخلي، د دې له پاره چې په وعدې سره دخوشې کولو چارواکي ته معلومات ورکول شي چې هغه يې د متجاوز د په وعدې سره خوشې کولو څخه مخکې په پام کې ونيسي، او د دې له پاره چې، د غوښتنې په صورت کې، د مدعی عليه د په وعدې سره خوشې کولو يا بل ډول خوشې کولو په هکله خبر کړای شي.

**16. د قرباني او عوامو خونديتوب په وعدې سره د خوشې کولو فکټورونه دي -** د دې له پاره چې له هر په وعدې سره خوشې کولو يا بل له قضاوت څخه وروسته خوشې کولو په هکله د فيصلې له کولو څخه مخکې د قرباني، د قرباني د کورنۍ خونديتوب يقيني شي.

**17. د دغو 16 حقونو په هکله معلومات -** د دې له پاره چې د هغو حقونو په هکله معلومات وړاندې شي چې له (1) څخه تر (16) پاراګرافونو کې ذکر شوي دي.

****************************************************

## اضافي مرستې

لوی څارنوال د دغو موسساتو او ادارو نظريات، خدمتونه، او معلومات نه تصديقوي، هېڅ مسؤليت يې پر غاړه نه اخلي، او نه پرې کنټرول لري.

**د قرباني د تلافی يا جبران بورډ** – کولی شي چې د ځېلو سر پۀ لاندينيو کې مرسته وکړي: د ذهني روغتيا مشاورت، د جنازې مصرف، د عايد له لاسه ورکونه، د جنايت ځای پاکول، د عمومي او د غابنو د علاج مصرف.
www.victims.ca.gov **1-800-777-9229**

**د کليفورنيا د تصحيح او تاديب څانګه، د قرباني او اقرباء د حقونو او خدمتونه دفتر** – کله چې مجرم په محبس کې بندي وي، د مجرم د خلاصون، بېرته ګرځونې، د وعدې په اساس د بندي د خوشې کولو د شرايطو او د وعدې په اساس د استماع ګانو په هکله معلومات ورکوي. **1-877-256-6877** www.cdcr.ca.gov/victim_services

**د مک جورج د حقوقو ښوونځی** – د جرم د قربانيانو د مرستې مرکز – قربانيانو ته د دوی د جغرافيه پۀ اساس اسانتياوې او د قربانيانو د حقوق پۀ اړه معلومات ورکوي. **1-800-Victims (1-800-842-8467)**
www.1800victims.org

**د کورني تاوتريخوالي عاجل ملي لين – 1-800-799-7233** www.thehotline.org

**د ولسوالۍ د لويانو د حفاظتي خدمتونو معلومات** – (له لويانو څخه بده استفاده) د کليفورنيا د ولسواليو 24 ساعته د بيړې ټليفون نمرې لپاره. www.cdss.ca.gov/inforesources/County-APS-Offices

**له کوچنيانو څخه د بدې استفادې عاجل لين** – له کوچنيانو څخه د بدې استفادې معالجه او مخنيوی.
**1-800-422-4453** www.childhelp.org

**د جنسي تيری، د زورنې او د محرم سره د زنا ملي شبکه – 1-800-656-4673** www.rainn.org

**د انساني قاچاق د ملي مرستندوی مرکز عاجل لين** – 24 ساعته د بيړې نمره: **1-888-373-7888**
www.humantraffickinghotline.org

**د کليفورنيا د خبرخپرولو اداره – د هغو ټيليفون کوونکيو له پاره چې په خبرو کې ستونزه لري، کاڼه وي يا په اورېدلو کې ستونزې لري: ډايل کړئ 711. TTY/HCO/VCO د انګلېسي له پاره: 1-800-735-2929 او د هسپانوي له پاره: 1-800-855-3000. اواز TTY/VCO/HCO ته د انګلېسي له پاره: 1-800-735-2922 او د هسپانوي له پاره: 1-800-855-3000. د خبرو نه خبرو ته ترجمه پۀ انګليسي او هسپانوي ژبو کې نمره: 1-800-854-7784**

**د لويې څارنوالۍ د قربانيانو د خدمتونو يونټ** – د قرباني/شاهد په هکله ځايي معلومات، د جغرافيايي منابعو معلومات او د جرم د قربانيانو د استيناف غوښتنې د حالت په هکله معلومات وړاندې کوي. د نورو معلماتو لپاره **1-877-433-9069** ته ټليفون وکړئ او يا وګورئ www.oag.ca.gov/victimservices
د سيميز انساني قاچاق معلوماتو لپاره وګورئ www.oag.ca.gov/human-trafficking

****************************************************

د کليفورنيا تر اساسي قانون لاندې 'قرباني' داسې تعريف شوی دی چې، «يو شخص چې په مستقيمه توګه يا د فزيکي، رواني، يا مالي زيان د تهديد له لارې د يوه جرم يا مجرمانه عمل د ترسره کېدلو يا د جرم د ترسره کېدلو د هڅې په نتيجه کې زيانمن شوی وي. د 'قرباني' اصطلاح د هغه شخص په جوړې، مور او پلار، کوچنيانو، خويندو او ورونو، يا سرپرست باندې هم مشتمله ده، او د جرم د قرباني په هغه قانوني استازي باندې چې هغه مړ شوی وي، يو کوچنی، يا په فزيکي يا رواني لحاظ سلب صلاحيت شوی وي هم شامله ده. د 'قرباني' په اصطلاح کې هغه څوک چې هغه د يوه تجاوز له امله په توقيف کې وي، ملامت شوی شخص، يا هغه شخص شامل نه دی چې محکمه يې داسې مومي چې هغه به د يوه کوچني قرباني په ګټه کار ونه کړي.»
(د کليفورنيا اساسي قانون، I ماده، § 28(e).)

يو قرباني، د يوه قرباني له خوا نيول شوی وکيل، د قرباني يو قانوني استازی، يا څارنوال د قرباني په غوښتنه، ښايي په هره محاکمه يا مرافعه محکمه کې چې په قضيه باندې د حق له مخې قانوني صلاحيت لري، ښايي پورتني حقونه نافذ کړي. محکمه بايد په داسې يوه غوښتنه باندې په چټکۍ سره عمل وکړي.
(د کليفورنيا اساسي قانون، I ماده، § 28(c)(1).)

Funding is made possible through the United States Department of Justice, Victims of Crime Act, 2016-VA-GX-0057



**14. د ملکيت چټکه بېرته ګرځونه -** د ملکيت چټکي بېرته ګرځونې ته کله چې نور د شاهدۍ له پاره ورته اړتيا نه وي.

**15. په وعدې سره د خوشې کولو د پروسو او په وعدې سره د خوشې کولو ياداشت -** د دې له پاره چې په وعدې سره د خوشې کولو د ټولو پروسيجرونو په هکله خبر شي، د دې له پاره چې په وعدې سره د خوشې کولو په پروسه کې برخه واخلي، د دې له پاره چې په وعدې سره دخوشې کولو چارواکي ته معلومات ورکول شي چې هغه يې د متجاوز د په وعدې سره خوشې کولو څخه مخکې په پام کې ونيسي، او د دې له پاره چې، د غوښتنې په صورت کې، د مدعی عليه د په وعدې سره خوشې کولو يا بل ډول خوشې کولو په هکله خبر کړای شي.

**16. د قرباني او عوامو خونديتوب په وعدې سره د خوشې کولو فکټورونه دي -** د دې له پاره چې له هر په وعدې سره خوشې کولو يا بل له قضاوت څخه وروسته خوشې کولو په هکله د فيصلې له کولو څخه مخکې د قرباني، د قرباني د کورنۍ خونديتوب يقيني شي.

**17. د دغو 16 حقونو په هکله معلومات -** د دې له پاره چې د هغو حقونو په هکله معلومات وړاندې شي چې له (1) څخه تر (16) پاراګرافونو کې ذکر شوي دي.

****************************************************

## اضافي مرستې

لوی څارنوال د دغو موسساتو او ادارو نظريات، خدمتونه، او معلومات نه تصديقوي، هېڅ مسؤليت يې پر غاړه نه اخلي، او نه پرې کنټرول لري.

**د قرباني د تلافی يا جبران بورډ** – کولی شي چې د ځېلو سر پۀ لاندينيو کې مرسته وکړي: د ذهني روغتيا مشاورت، د جنازې مصرف، د عايد له لاسه ورکونه، د جنايت ځای پاکول، د عمومي او د غابنو د علاج مصرف.
www.victims.ca.gov **1-800-777-9229**

**د کليفورنيا د تصحيح او تاديب څانګه، د قرباني او اقرباء د حقونو او خدمتونه دفتر** – کله چې مجرم په محبس کې بندي وي، د مجرم د خلاصون، بېرته ګرځونې، د وعدې په اساس د بندي د خوشې کولو د شرايطو او د وعدې په اساس د استماع ګانو په هکله معلومات ورکوي. **1-877-256-6877** www.cdcr.ca.gov/victim_services

**د مک جورج د حقوقو ښوونځی** – د جرم د قربانيانو د مرستې مرکز – قربانيانو ته د دوی د جغرافيه پۀ اساس اسانتياوې او د قربانيانو د حقوق پۀ اړه معلومات ورکوي. **1-800-Victims (1-800-842-8467)**
www.1800victims.org

**د کورني تاوتريخوالي عاجل ملي لين – 1-800-799-7233** www.thehotline.org

**د ولسوالۍ د لويانو د حفاظتي خدمتونو معلومات** – (له لويانو څخه بده استفاده) د کليفورنيا د ولسواليو 24 ساعته د بيړې ټليفون نمرې لپاره. www.cdss.ca.gov/inforesources/County-APS-Offices

**له کوچنيانو څخه د بدې استفادې عاجل لين** – له کوچنيانو څخه د بدې استفادې معالجه او مخنيوی.
**1-800-422-4453** www.childhelp.org

**د جنسي تيری، د زورنې او د محرم سره د زنا ملي شبکه – 1-800-656-4673** www.rainn.org

**د انساني قاچاق د ملي مرستندوی مرکز عاجل لين** – 24 ساعته د بيړې نمره: **1-888-373-7888**
www.humantraffickinghotline.org

**د کليفورنيا د خبرخپرولو اداره – د هغو ټيليفون کوونکيو له پاره چې په خبرو کې ستونزه لري، کاڼه وي يا په اورېدلو کې ستونزې لري: ډايل کړئ 711. TTY/HCO/VCO د انګلېسي له پاره: 1-800-735-2929 او د هسپانوي له پاره: 1-800-855-3000. اواز TTY/VCO/HCO ته د انګلېسي له پاره: 1-800-735-2922 او د هسپانوي له پاره: 1-800-855-3000. د خبرو نه خبرو ته ترجمه پۀ انګليسي او هسپانوي ژبو کې نمره: 1-800-854-7784**

**د لويې څارنوالۍ د قربانيانو د خدمتونو يونټ** – د قرباني/شاهد په هکله ځايي معلومات، د جغرافيايي منابعو معلومات او د جرم د قربانيانو د استيناف غوښتنې د حالت په هکله معلومات وړاندې کوي. د نورو معلماتو لپاره **1-877-433-9069** ته ټليفون وکړئ او يا وګورئ www.oag.ca.gov/victimservices
د سيميز انساني قاچاق معلوماتو لپاره وګورئ www.oag.ca.gov/human-trafficking

****************************************************

د کليفورنيا تر اساسي قانون لاندې 'قرباني' داسې تعريف شوی دی چې، «يو شخص چې په مستقيمه توګه يا د فزيکي، رواني، يا مالي زيان د تهديد له لارې د يوه جرم يا مجرمانه عمل د ترسره کېدلو يا د جرم د ترسره کېدلو د هڅې په نتيجه کې زيانمن شوی وي. د 'قرباني' اصطلاح د هغه شخص په جوړې، مور او پلار، کوچنيانو، خويندو او ورونو، يا سرپرست باندې هم مشتمله ده، او د جرم د قرباني په هغه قانوني استازي باندې چې هغه مړ شوی وي، يو کوچنی، يا په فزيکي يا رواني لحاظ سلب صلاحيت شوی وي هم شامله ده. د 'قرباني' په اصطلاح کې هغه څوک چې هغه د يوه تجاوز له امله په توقيف کې وي، ملامت شوی شخص، يا هغه شخص شامل نه دی چې محکمه يې داسې مومي چې هغه به د يوه کوچني قرباني په ګټه کار ونه کړي.»
(د کليفورنيا اساسي قانون، I ماده، § 28(e).)

يو قرباني، د يوه قرباني له خوا نيول شوی وکيل، د قرباني يو قانوني استازی، يا څارنوال د قرباني په غوښتنه، ښايي په هره محاکمه يا مرافعه محکمه کې چې په قضيه باندې د حق له مخې قانوني صلاحيت لري، ښايي پورتني حقونه نافذ کړي. محکمه بايد په داسې يوه غوښتنه باندې په چټکۍ سره عمل وکړي.
(د کليفورنيا اساسي قانون، I ماده، § 28(c)(1).)

Funding is made possible through the United States Department of Justice, Victims of Crime Act, 2016-VA-GX-0057

VSU Rev 10/2017